دمقالی لیکونکی: ویلیوم بلوم (William blum).
سرچینی او دخپریدو نیټه : انفارمیشن کلیرنګ هوس «۲۰۱۳-۵-۶».
ژباړونکی: پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».
-----------------------------------------------------------------------

# متحده ایالات او تروریسم

Terrorism And the United States

(می ۲۰۱۳-۰۵-۰۶ – انفارمیشن کلیرنګ هوس): هغه څه چې دتعجب وړدی دادی چې ځوان سړیو کوم چې دلوړو زده کړو څښتن له پوره روغتیا یی حالت څخه برخوردار اودبنه راتلونکی ژوند هیله مند هم دی مګر د خپل سیاسیی عقیدی او باور په لړلو سره چاودیدونکی مواد دبیګا نه اود پردی خلکو دوژلو اودقتل عام کولو د پاره پکار اچوی ، زما دخبرو مخه دمتحده ایالاتو دنظامی پرسونل په اړه دی کوم چې هغو په څمکه ، په هوا اویا د نیبادا(Nevada) دبی پیلوتو الوتکوله مرکزی دفتردهدایت سره سم دخلکو په وژلو څه په عراق –افغانستان-یمن- پاکستان- سومالی – لیبیا اوپه څنو نورو ځایونو کی لاس پوری کوی اوهغو کوم چې دمتحده ایالاتو ددی دوامدار یرغل څخه خوندی پاتی دی هغو دخپلو مړوعزیزانو په اړین له دی یرغل کونکو څخه پوښتنه ونکړل چې دا ولی ؟ او دڅه د پا ره پر مونږ یرغل کیږی ؟ مګر په بوستان (Boston) کی دوژل شوی بی ګناهو خپلو اوخپلوانو د خپل سوال ځواب ترلاسه کړل اوهغه هم په عراق اوپه افغانستان کی روانه جګړه چې هره ورځ خلکو خپل ژوند دلاسه ورکوی .
داهغه څه دي چي په زندان کی له بمب ګذاری څخه را پا تي ژوندی دیسوکهار سارنیب (Dzhokhar Tsarnaev) وايي : دلته دشک اود ګمان دپاره هیڅ یو دلیل په لاس کی نشته چې نن یا سبا دهغه مقصد له دی ویلو څخه دادی چې په تیرو وختونو کی یعنی په دی تیرودوه لسیزوکی نه یوائی دا بلکه په لس ګونونورو تنودامریکی پر مجتمع اوپه نورو تاسیساتو باندی یرغل ترسره کړی چې دا پخپله دامریکی دمتحده ایالاتو د با ند نی سیاست سره یوه رغنده مخالفت او دبنمنی دي .{ دویلیم بلوم او روګوستا تت د «۲۰۰۳» دچاپ نه راوتلی کتاب په نړی کی یواځنی زبرځواک دلاربنود تر عنوان لاندی لمړی او دوهم فصل ته دی مراجعه وشی او همدارنګه ورته موضوعات کوم چې د ګلن ګرین والد (Glenn Greenwald) پواسطه سره لیکل شوی دی هم مراجعه وشی ،هغوی زمونږ څخه په دی کرکه لری (هغه کتاب دی چې د سا لن «Salon » له خوا په دولسم د اکتوبرکال « ۲۰۱۰» لیکل شوی هم باید مراجعه وشی ) چې زمونږ په واسطه سره اشغال شوی دی] .

د تسارنیب (Tsarnaev) دواړه ورونو خپل ادډول باور اونظر مخکی له یرغل وړلو ښخه بیان کړی وه ، [ هوفنګن پوست «Huffington post » اپریل «۲۰۱۳-۲۰»، واشنګتن پوست –اپریل ۲۱] په ماراتن «Marathon» کی بمب ګذاری فقط وروسته دامریکی دهغه وژونکی یرغل پواسطه سره چي پرافغانستان باندی وکړ ترسره شوی وه کوم چي په دی بمب ګذاری کی (۱۷) تنه بی ګناه غیر نظامیان سره د (۱۲) کوچنیانو خپل ژوند دلاسه ورکړل ،اودغه پیښه دهغو نورو پیښو یوه نمونه وه کوم چي په تیر کلنو کی داسی پیښی زیات ترسره شوی دی .

( اوکی ) امریکا یا ن ( دامریکایانو ښخه مطلب جګړه مار او سړی وژونکی امریکایان دی )وایی « چي دا یوه تصادف یانابره پیښه وه هغه څه چي ترووریستان ورته خونسرده قتل وایی ».

پس کله چي دامریکی د متحده ایالاتو نظامیان یا دامریکی اردو د دوشنبی په ورځ دبمب ګذاری ماموریتونه په بهرکی تر سره کوی اودهغه په پایله کی ډیری بی ګناه عیر نظامیان وژل کیږی نوبیا همدوی دی چي وایی « ومو بښی» اوبیا اعلاموی چي دا یوه تصادف وه ،وروسته له هغه بیا دامریکی نظامی کړیو دسه شنبی په ورځ بمی ماموریت په بهر کی ترسره کوی کوم چي دهغه په نتیجه کی ډیری بی ګناه ملکی خلک وژل کیږی بیا هم همدوی دی چي له خلکو ښخه بخښنه غواړی او اعلاموی چي دا خو یو تصادف وه بیا وروسته دچهار شنبی په ورځ همدغه دامریکی دمتحده ایالاتو اردو په بهر کی بمی ماموریت ترسره کوی چي دهغه په ترځ کی ډیری بی ګناه ملکی خلکو خپل ژوند دلاسه ورکو اوبیا همدغه دامریکی نظامی کړی دی چي دخلکو ښخه بخښنه غواړی او اعلاموی چي دا یوه تصادف وه اوبیا په همدی ورته بنی سره دپنجشنبی اود جمعي په ورځ د بمب ګذاری ماموریت ترسره کوی اوبیا هم دخلکو ښخه بخښنه غواړی اوپه ورته بنی سره اعلاموی چي دا یوه تصادف وه .

له دیرو پخوا وختونو ښخه راهیسی دامریکی دمتحده ایالاتو اردو د تصادف د ویلو حق دلاسه ورکړی او په ټولنه کی بی اعتباره شوی دي.

تروریسم په واقیعت کی اساساْ یوتبلیغی ماموریت یا عمل دی کوم چي دهمدی عمل په واسطه سره دخلکو پام ځانته را جلبوی ، د « ۹/۱۱ » د پیښی عاملان کوم چي پر تجارتی مرکز باندی چي دامریکی د متحده ایالاتو د قدرت اوداقتصا د مشهوراو نامی سمبول بلل کیده یرغل ویورل هغه څه وه چي هغوی خپل پیام له یرغل ښخه مخکی له مخکی د تیلیفون پواسطه سره ډله ایز رسنیو ته لیږلی وه چي پیښه نشر ته وسپاری حال داچي اوسنی ټولنه چي له هره پلوه دکمرو اود لوړو تکنالوژیکی وسایلو په مرسته سره تر ښارنی اونظارت لاندی پریوتی دی ښنګه کیدی شی چي د یوی جرمی پیښی عاملان ونه پیژندل شی سره دهغه چي دعامه تیلیفونو غرفی هم دخلکو په دسترسی کی

قرار لری .

له هغه څه څخه چي راپور راکړ شوي دی داسی را څرګند شوی چی د تامرلین (Tamerlan) ورونه دامریکی د متحده ایالاتو د با ند نی په اصطلاح ضد اسلامی سیا ست سره په مخالفت کی لکه نور ډ یری مسلمانانو په څیردی ، لاکن زه داسی فکر کوم چی دا ډول څرګندونه پخپله دواشنګټن اود واشنګټن دواکدارانو غلط ا وناوړی تعبیر دی اودا ځکه چي دامریکی لوړ پوړی دهر هغه چا پرضد دی کوم چي پر نړی باندی دامپریالیزم دتسلط د پلان دسیاست دپلی کولو ځنډ وګرځی .

دامریکی متحده ایالات اوس اوس دسعودی عرب – اردن اوقطره سره ډیر نژدی او دوستا نه اړیکی لری یعنی د هغو هیوادونو سره چی په مینځنی ختیځ کی داسلام اود اسلامیت ناری وهی او ځان داسلام ساتونکی بولی . اویا همدغه دامریکی دمتحده ایالاتو واکداران دی چي په دی تازه او روان کلنو کی دعراق اود لیبیا سکولر دولتونه دمینځه ویوړل اواوس لګیا دی چی په ثوریه کی هم سکولر له مینځه ویسي .

اویا داچي همدغه د امریکی د متحده ایالاتو واکدارن دی کوم چی د تاریخ په اوږدو کی د کاسترو تروریستانو سره اړیکی لرل اوهغو سره هر راز حمایوی مرستی تر سره کول حتی تر دی حده پوری چی که هغوی د امریکي په دننه کی دکوم جرم عامل کیدل له هر راز جزا څخه خوندی پاتي کیدل .

دکاسترو اود لاتینی امریکی د نورو مشران پر ضد په سلونو تروریستان دکال په اوږدو کی دامریکی په متحده ایالاتو کی خوندی سر پناه تر لاسه کوی یا په بل عبارت دامریکی دمتحده ایالاتو واکداران سل ګونو تروریستا نو ته په امریکی کی پټ ځایونه برابروی اودبلی خوا څخه په اوس اوس وختونو کی له تروریستانو څخه په افغانستان- نیکاراګوا- کوسسو- بوسنیا- ایران- لیبی اوسوریه کی ملاتړ کوی اودهغوی سره هرراز مرستی تر سره کوی حتی دهغو تروړستانو سره هم کمک کوی کوم چی دالقاعدی سره اړیکی لری مګر دامریکی باندنی سیاست څخه ملاتړ کوی اودهغوسره هیڅ نه جنګیږی په دی اخرو کلنو کی دتروریسم پرضد دامریکی دمتحده ایالاتو ددولت له خوا یو لړ ډیر سخت او کلک قوانین په تصویب رسید لی چی دهغه په رڼا کی جمهور ریس باراک اوباما ته پوره واک ورکړشوی چی متحده ایالات دا حق لری چی د سر سختو مجرمینو سره په همغه خواوو کوم چی دالقاعده تروریستان په لیبیا اوسوریه کی جنګیږی دهغو سره په ګډه دلیبی اودسوریه ددولتونو پرضدوجنګیږی او حتی تردی حده چی دهغو څخه ملاتړ هم وکړي حتی که دامریکی پر ضد مخکی جنګید لی هم وی دغه حا لت موږ په خپلو رڼو سترګو ولید خصوصاً په لیبیا کی چی تروړستا ن نه یوازی داچی باید په بند کی ساتل شوی وای بلکه هغوته چانس ورکړل شول چی د قدرت پر چوکیو کی ډده ولګوی . یا هغو چی دامریکی په د ننه کی دتروړستا نو سره اړیکی لرل یا هغوسره مرسته کول ډیر کم شمیر یی په بند کی اچول شوی دی .

دیوی نمونوی بیلگی په بنه اوهغه داچي واشنګټن مخکی له هرڅه نه پخپل امپریالیستی اجندا کی هغو مطا لبو ته ځای ورکوی چي دهغه په ګټه وی،مثلاً که چیری ګلبدین حکمتیار افغانی جنګ سالارپه نظر کی ونیسو یعنی هغه جنګ سالار چی دهغی پیروان په کال «۱۹۸۰» کی دهغو ښځو پرمخ تیزاب پا شول کوم چی هغوی حجاب نه اغوستل او مخ لوڅي وه ، اودا په دی رنګه چي دغه وحشی صفتو انسا نا نو پخپل وخت کی څنګه خوندی وه یعنی تر هغه وخته چي هغوی ویلی نه وه چي «مرګ دی وی پر امریکا» یعنی د امریکی پرضد د مرده باد شعارونه نه ورکول او چا ورته څه نه ویل اما یو څه موده وروسته دامریکی دمتحده ایالاتو اطلاعاتی سازمان او دامریکی دمتحده ایالاتو دبا ند نیو وزارت لوړ پوړی چارواکی ګلبدین حکمتیار ته د «ډارن» - «خطا کار» - «فاشیست » او د «بدجنس قطعی » نوم ورکړل شو [ تایم واینر- بلنک چک: د پنتاګون ( د سی آی ای ) د کال «۱۹۹۰» بودجه (۵۰-۱۴۰) صفحی دی وکتل شی ] دغه پورتنی تکتیکی تبلیغات ونشو کړلی چي دامریکی د متحده ایالاتو د حکومت مخه له هغه حاتم طایی مابانه مرستو څخه کوم چي ګلبدین سره کول منع کړی یعنی دامریکی مرسته دهغه چا سره چي په افغانستان کی دشوروی اتحاد تر حمایی لاندی دولت سره جنګیدل [ دویلیم بلوم د هیلو قتل په کتاب کی : دامریکی د متحده ایالاتو دنظامیانو اود «سی آی ای» لاس وهنه له دوم نړیوال جګړی څخه را په دی خوا تر سرخط لاندی دی وکتل شی ] حکمتیار لا تر اوسه په افغانستان کی ډیر مشهور جنګ سالار دی .

یا همدارنګه په ورته مثال سره کولای شو چی د لیویس پوسودا (Luis Posada) بمب غورځونکی وحشی صفت سړی څخه یادونه وکړو کوم چي هغه په کال «۱۹۷۶» کی دکوبا په یو هوایی شرکت کی بمب وچول اودهغه په ترڅ کی «۷۳» نفر خپل ژوند دلاسه ورکړل اما لویس پوسودا په ازاد ه اوپه پوره خاطرجمعی سره لاتر اوسه دامریکی په فلوریدا کی دڅو کلنو را هیسی خپل نورمال ژوند ته دوام ورکوی .

ننی متحده امریکا ورځپا نه د څو مخکینیو میاشتو یو راپور خپور کړ اوهغه داچي په سوریه کی یو بغاوت کونکی شورشی سړی دورځپانی دیو خبر نګار سره په مصاحبه کی داسی ویلی: ماته وروسته له مرګ څخه ژوند په دی ارزش لری چی که زه وشم کړی چی دامریکی سره په جهاد کی دغه مرتبی ته ورسیږم یعنی یو جهادی شهید شم ، ( ددسامبر دریم کال ۲۰۱۲).

تامرلین تسارنیب (Tamerlan Tsarnaev) کوم چي هغه د پولیس سره په وارو ګذار سره غوښتل چی د یوخان وژنی په عمل سره په جهاد کی مړ شی یعنی دجهاد دشهادت مرتبی ترلاسه کړی ،ګرچه لاتراوسه ځنی سوالونه باقی پاتی دی چي دهغه دمرګ قطعی سبب او عامل څه به وی ؟ په هرصورت زه داسی فکر کوم چي مسولو مقاماتو غوښتل

چې دغه ورونه دوروستی تحقیقاتو دپاره ژوندی ونیسی نو په دی وجهی سره هغوی وغوښتل چې ځان وژنه وکړی او د شهادت مقام تر لاسه کړی .
دا ډیر جا لب اود پاملرنی وړ مطلب دی اوهغه داچې دجهادی مړنی څخه په وروسته شیبو کی پس له یو ژور شوک څخه که داسی را بربنډ شی چې له مرګ څخه وروسته نور ژوند نشته البته چې ددی رنګ تعریف سره هغه ته وروسته له مرګ د ژوندی کیدو پوهه به داوی چې وروسته له مرګه ژوند نشته نوحیرانونکی شیبی به وی یاپه بل عبارت سره یو ناباورکونکی ته به ډیره هیجانی او حیرانونکی شیبی به هغه وی کوم چې هغه په دی پوه شی چې له هغه څخه سهوه شوی اویا هغه اشتباه کړی دی .
نو په دی وجهه اجازه راکړی چي په دی هیله مند شو اوهغه داچي نورنو دامریکی دمتحده ایالاتو دولتمردان - نظامی افسران اود لویو شرکتونو رهبران کوم چي هغوی دامریکی پرخلکو حکومت کوی نور نو جګړی او جنګ ته لمن ونه وهی اویا داچي دامریکی پر ضد د تروریزم د اصطلاح تر نوم لاندی په نړی کی ګډوډی دی نه را مینځته کوی پریږدی چی په نړی کی ژوند بی له جنګ اوجګړی څخه په مخه لاړ شی یعنی داسی یو نړی را مینځته شی چی هلته جنګ اود جنګ اثار تر سترګو نشی . ځکه چی دلته نور هیڅ کوم یو دفاعی وسیله دیوی ځوانی میره اوښځی تر شا نه په سترګو کیږی چی هغوی نور تاسی ته په کافی اندازی سره لیونی اویا شریر ونه ووایی یا داچي تاسی هغوی ته څه ونه ووایی .
مګردا هیله مندی کوم چی دامریکی نخبګان دی خپل شعورته تغیر ورکړی ډیر سخت او مشکل ښکاری لکه همغسی چی دهغه دوه ورونو مور اوپلار ته مشکل اوسخت بریښی چی ومنی ځما زامن ګنهګار او ملامت وه .
ریچارد فلک (Richard Falk)د ملګرو ملتونو دبشر دحقوق ځانګړی استاذی دفلسطین په قلمرو کی دبوستان دپیښی څخه وروسه په یوه وینا کی داسی څرګندونه وکړ :
دامریکی دتسلط پروژه په ټوله نړی کی دی سره اړین بریښی چی تیر استعماری (post colonial) مقاومتونه له سره بیا ژوندی شی نوپه دی وجهه دامریکی د پاره د ایوه ډیر ښه وخت او فرصت دادی چی باید نور د خلکو دغوښتنی په وړاندی خند نشی اونور دی مقاومت ونکړی ، مونږ با ید په دغه حسا س شیبوکی له ځا نه پوښتنه وکړو اوهغه دا چی : څومره کنا ری( دلته د کنا ری څخه مطلب بی ګناه انسانان دی ) با ید مړ شی ترهغه چی مونږ د جیوپولیتک فانتزی څخه یعنی پر نړی با ندی د بشپړ تسلط له خوبه را ویښ شو .[ د بیرونی پا لیسی ژورنال دی وکتل شی : foreign policy journal.co ].
په کانادا - بریتانیا کی لوړ پوړی اوهم په ملګرو ملتونو کی دامریکی د متحده ایالاتو دایمی سفیر سوسان رایس هغه کوم چی له د ندی څخه بهرشو ] تیلیګراف لندن

داپريل «۲۵» کال «۲۰۱۳»politico.com].
دمقالی دليکونکی په اړه: ويليم بلوم مولف- تاريخ ليکونکی – دامريکی پر خارجی سياست باندی مشهور منتقد اود يو کړ کتابونو لکه د killing Hope: US military and CIA intervention since world war two and Rouge state: A guide to the world’s only superpower, among others مولف اودهغه ويب سايت پاڼه Williamblum.org

------------------------------------------- په درناوی